# د کپک وده

کپک يو فنجي دی چې په تیاره او تاوده، ډیر مرطوب او داسې ځای کې وده کوي چې د هوا جریان پکې کم وي. اقلیمي بدلونونه د کپک د زیاتې ودې سبب کېږي، ځکه چې د سختو بارانونو، سیلابونو او د اوړي ګرمۍ او مرطوبې اوړي د هوا په سبب زموږ په چاپیریال کې رطوبت زیاتېږي.

د کپک زیاتېدل د روغتیايي ستونزو سبب کېدی شي. دا د سترګو، پزې، ستوني، پوستکي او تنفس د تخریش\تحریک سبب کېدی شي. دا همداراز کولی شي د ساه لنډۍ او حساسیت نښې نښانې او غبرګونونه تحریک کړي او د تنفسي سیستم د ناروغیو سبب شي.



**څوک په لوړه کچه له خطر سره مخ دي؟**

- هغه خلک چې له 65 کلونو څخه لوړ عمر لري
- له 5 کلونو څخه کم عمر لرونکي ماشومان
- میندواره میرمنې
- هغه کسان چې د معافیت کمزوري سیستمونه لري
- هغه کسان چې ساه لنډي، الرژۍ او د تنفسي سیستم ناروغۍ لکه COPD لري

**موږ په دې اړه څه کولی شو؟**

- څومره ژر چې کولی شئ لیک شوي پایپونه او د رطوبت نورې سرچینې جوړې کړئ
- په 48 ساعتونو کې مرطوبې ساحې پاکې او وچې کړئ
- د کور د ننه رطوبت د %50-30 ترمنځ وساتئ
- پرېږدئ چې په فرنیچر، چت، دیوالونو او غولي کې ښه هوا وچلېږي
- د تودوخې، تهویې او ایرکنډیشن د اوبو تویېدو پینونه پاک او داسې وساتئ چې سم کار وکړي
- د دغو MA لارښوونو او U.S. EPA لارښوونو په کارولو کپک وارزوئ او لرې یې کړئ
- که مو کور کرایه کوئ، دغه د Massachusetts لارښوونې وکاروئ چې د کپک او خپلو حقونو او مسولیتونو په اړه لا ډیر پوه شئ
- که تاسو د یوه کرایي کور مالک یئ، دغه د Massachusetts لارښوونې وکاروئ چې د کپک او خپلو حقونو او مسولیتونو په اړه لا ډیر پوه شئ
- که مو کور خپل وي، دغه قدم په قدم لارښود وګورئ چې څنګه کپک پاک کړئ